# خبري خپرونه

## د ۲۰۰۸ کال د تجارت کولو راپور
## هندوستان، بوتان، او سري لانکا په جنوبي آسيا کې د چټکو ريفورمونو مخکښان دي

**واشنګټن ډي سي (۲۶ سپتمبر ۲۰۰۷ کال):** سهيلي آسيا خپل د مقرراتي اصلاحاتو سرعت نظر تېر کال ته زيات کړی دی چې د اصلاحاتو د چټکتيا له مخې په ټوله نړۍ کې دويمه سيمه ده او د OECD هيوادونو سره جوګه شوې ده. دا مطلب د «۲۰۰۸ کال د تجارت کولو په راپور» کې لاس ته راغلی دی. نوموړی راپور د کلنيو راپورونو په لړۍ کې پنځم راپور دی چې د نړيوال بانك او د بين المللی مالی شرکت له خوا خپور شوی دی. سهيلي آسيا په تېر کال کې د اصلاحاتو د چټکتيا له مخې تر ټولو ټيټه رتبه درلوده خو سږ کال ددې سيمې په دريو کې دوه برخې هيوادونو لږ تر لږه يو ريفورم پلي کړی دی.

د اصلاحاتو په چټکتيا کې د هندوستان هيواد تر نورو وړاندې وو چې د سودا ګرۍ په آسانتيا کې يې ۱۲ درجې پرمختګ کړی دی او د سوداګرۍ د مقرراتو اصلاحات يې د خپلو پاليسی ګانو په موخو کې ګڼلی دی. دهندوستان هيواد د سرحدونو د سوداګريزو چارو په اصلاحاتو کې د نړۍ په کچه لمړی مقام ګټلی دی او د بوتان او سريلانکا هېوادونه دوه هغه نور هيوادونه دی چې په روان کال کې يې په سهيلی آسيا کې لوړ مقام اخستی دی. د بوتان هيواد خپله لمړۍ اساسی لايحه د کارګرانو د حقوقو د پياوړتيا په هکله پيل کړې ده او دسريلانکا هېواد د تشبثاتو د کار پيل او د سرحدی سوداګری سرته رسونه آسانه کړې ده.

د نړۍ په کچه لس هېواده د اصلاحاتو په ډګر کې مخکښان دی چې عبارت دی له: مصر، کروات، غنا (ګانا)، مقدونيه، جورجيا، کولمبيا، سعودی عربستان ، کينيا، چين او بلغاريا. اصلاح غوښتونکو هېوادونو د تشبثاتو د کار پيل آسانه کړی دی او د ملکيت حقوق يې پياوړې کړی دی او د پانګه اچوونکو حمايت يې نور هم زيات کړی دی. همداشان د کريډټ لاس رسئ يې پراخ کړی او په مالياتې فشارونو کې يې هوساتوب را منځ ته کړی دی او سوداګری ته يې چټکتيا وربخښلې ده په داسې حال کې چې لګښتونه يې ورته ټيټ کړي دي. په مجموعی توګه په ۹۸ هېوادونو کې ۲۰۰ ريفورمونه د ۲۰۰۶ کال د اپريل څخه د ۲۰۰۷ کال تر جون مياشتې پورې پلي شوي دي.

د سنګاپور هېواد د دويم کال لپاره په عمومی توګه د تجارت د آسانتياوو د برابرولو په ډګر کې لمړی مقام لري. په سهيلی آسيا کې د لوړ مقام درلودونکې هېوادونه مالديف (۶۰ ريفورمه) او پاکستان (۷۶ ريفورمه) دی. د هندوستان هېواد خپله درجه په روان کال کې ښه کړې ده او يوسلوشلم مقام ته رسېدلی دی چې پرمختګ يې نظر د چين هېواد ته چې ۹ درجې پرمختګ يې کړی او دري اتيايم مقام ته رسېدلی دی، ډېر دی.

" په ياد شوي راپور کې لاس ته راغلي دي چې د پانګې ګټه په هغه هېوادونو کې چې تر ټولو زيات اصلاحات يې کړي دي، ډېره ده" دا مطلب ښاغلي مايکل کلين، د بين المللی مالی شرکت/نړيوال بانك د مالی چارو او خصوصی سکتور د ودې د څانګې مرستيال وکړه او زياته يې کړه چې " پانګه اچوونکي د پورته کېدونکي پوټانسيل په لټه کې دی او داسې پوټانسيل په هغه اقتصادی نظامونو کې ليدل کيږي چې اصلاحات يې شوی وی، پرته لدې چې د پيل ټکئ يې په پام کې ونيول شی." لوی او نوی بازارونه تر ټولو زيات د ريفورمونو سرعت لري: د چين، هندوستان، ماليزيا، ويتنام او مصر هېوادونو ټولو د سوداګرۍ په آسانولو کې پرمختګ کړی دی. همدارنګه نوموړی راپور زياتوي چې د مقرراتي اصلاحاتو په بنسټ، د تشبثاتو لازيات شمېر په کار پيل کوی.

د هندوستان هېواد اوس په سهیلي آسیا کې د ریفورمونو په ډګر کې معیاري مقام لري چې د پالیسي ګانو ښکاره موخه یې دداسې اقتصادي نظام په درلودلو کې مخکښي ده چې د سوداګرۍ لپاره آسانتیا برابره کړي. په سرحدونو کې د تجارت په آسانتیاوو سر بېره، د هندوستان هېواد کریدت ته لاس رسئ داسې زیات کړ چې د کریډت د بیرو خدمتونو ته یې پراختیا ورکړه تر څو افرادو او تشبثاتو ته ورکړل شي. نوموړي هېواد د شرکتونو د تضمیني حقوقو د ثبت الکترونیك دفتر هم پرانستی دی.

په سهیلي آسیا کې نور د پام وړ اصلاحات:

- **افغانستان** د ملکیت د لیږد (انتقال) اړوند پروسې لږ کړي دي او د ملیکت د قبالو کمپیوټري کول یې پیل کړي دي.
- **بوتان** د تشبثاتو د فعالیت پیل داسې هوسا کړی دی چې د اړوند پروسو شمېر یې ټیټ کړ. نوموړي هېواد خپل لمړنی د کار قانون پلی کړ. دا قانون جبری کار، تبعیض، جنسي څورونه او د ماشومانو کار منع کوي. همدارنګه یاد شوي قانون هغه د ۱۲ میاشتو محدودیت چې پر ثابتو قراردادونو وضع شوی وی، له منځه یووړ او د شپې پر کار محدویت یې لږ کړ. همدارنګه هغه جبری تادیات چې د ورځې له خوا د اضافه کاری پر سر اخیستل کیدل، لغو شول. د بوتان هېواد د ملکیتونو د انتقال لپاره د قاضیانو شمېر زیات کړ چې په پایله کې یې د ملکیتونو د ثبت پروسه ګړندۍ شوه او موده یې د یوې میاشتې په اندازه لږه شوه.
- **پاکستان** د پرچون خرڅلاو په کارکوونکو باندې د اضافه کارۍ حدود نور هم پراخ کړي دي او د کار ساعتونه یې لا زیات د بدلون وړ ګرځولي دي. ددې هېواد د کریډت خصوصي بیرو اوس مثبت او منفي معلومات دواړه د پوروړیو په هکله خپروي او د پورونو په هکله زیات معلومات ساتي. د کردیت د ثبت عامه دفتر د پورونو په اندازه باندې وضع شوی حد د منځه وړی چې د پوښښ سطحه یې اوس ۲۰ ځلې زیاته شوې ده.
- **سریلانکا** د سهیلې آسیا په کچه تر ټولو زیات پرمختګ د تشبثاتو د فعالیت د پیل په ډګر کې کړی دی. د شرکتونو نوی قانون ددې لامل ګرځېدلی چې لدې وروسته د ستونزمنو منظوریو (هوکړو) لاسته راوړل ضروري نه وي او د ثبت فیس په یوه کچه د ټولو څخه د اخستلو وړ وي. همدارنګه نوموړی قانون د مهر او رسمي سندونو درلودل اختیاری کړی دی. د فعالیت د پیل پروسې د ۸ څخه ۵ ته راټيټې شوې او وخت یې د ۵۰ ورځو څخه ۳۹ ورځو ته راټیټ شو. سربیره پردې، د سریلانکا هېواد د ګمرکی اظهارلیکونو د وړاندې کولو الکترونیك سیستیم پیل کړ چې د مالونو د تجارت وخت د ۷ ورځو په اندازه لږ شو.

د اصلاحاتو د پراختیا یوه لاره داده چې د یوه هېواد د ننه ښارونه سره پرتله شي. د تجارت کولو راپور داسې موندلې ده چې د هندوستان په هېواد کې د سوداګریز جواز اخستنې موده د ۱۵۹ ورځو څخه د بوبانیشوار په ښار کې تر ۵۲۲ ورځو پورې د رانچې په ښار کې توپیر کوي. د ملکیتونو د ثبت موده د ۳۵ ورځو څخه د حیدرآباد په ښار کې تر ۱۵۵ ورځو پورې د کلکتې په ښار کې توپیر کوي. که چېرې د لوړې رتبې درلودونکي ښار د هندوستان په هېواد کې د تجارت کولو د راپور د شاخصونو پر بنسټ د ټول هېواد د پاره وټاکل شي، نو هندوستان به په مجموعي توګه د ۵۵ درجو په اندازه نظر نورو هېوادونو ته لوړ مقام واخلي. د هندوستان دولت نوموړی معلومات د لاړیاتو اصلاحاتو دپلان کولو لپاره کاروي.

په نورو ځایونو کې، ختیځه اروپا او مرکزي آسیا د اصلاحاتو په ډګر کې مخکښ اوسېدلي دي چې د استونیا، جورجیا او لاتویا هېوادونه د تجارت د آسانتیاوو په برابرولو کې د مخکښو هېوادونو څخه دي. په افریقا کې مخکښ هېوادونه د ګانا او کینیا څخه عبارت دي خو د افریقا پرمختګ په نابرابره کچه شوی دی چې کابو نیمۍ هېوادونو هېڅ اصلاحات ندي پلي کړي. منځني ختیځ او شمالي افریقا کې اصلاحات چټکتیا مومي چې د مصر، سعودي عربستان او تونس هېوادونه یې مخکښ دي. لاتینه امریکه او شرقی آسیا د روان کال د اصلاح غوښتونکو تر ټولو په ټیټه مرتبه کې واقع دي.

همدارنګه نوموړی راپور دا معلومات لاس ته راوړي دي چې د تجارت د آسانتیا په ډګر کې یوه هېواد د مرتبې اوچت والی په متشبثینو او کارکوونکو کې د ښځو د ګډون سره مل وي . "د مقرراتي اصلاحاتو د ډېروالي څخه لاس ته راغلې ګټې په خاصه توګه د ښځو د پاره زیاتې دي" دا مطلب میلیسا جانز چې د نوموړی راپور لیکونکې ده، ښکاره کړو او زیاته یې کړه چې "ښځې زیات وخت دداسې مقررو سره مخ

کېږي چې کېدای شي موخه به يې د ښځو ساتنه وی خو اغېزې يې بل شان دي ځکه چې ښځې غير رسمی سکتور ته اړ ايستل کيږي چېرته چې دوی د خپل کار ډاډمن توب او ټولنيزې ګټې له لاسه ورکوی."

د ۲۰۰۸ کال د تجارت کولو راپور د نړی ۱۷۸ اقتصادی نظامونه د تجارت د آسانتياوو په کچه سره پرتله کوی. هغه 25 هېوادﻩ چې په عمومی توګه لوړ مقام لری، په ترتيب سره عبارت دي له: سنګاپور، نوی زيلاند ، د امريکی متحده ايالات ، هانګ کانګ (چين)، دنمارک، لويه بريتانيا، کانادا، آيرلند، آسټراليا، آيسلند، ناروی، جاپان، فنلند، سويډن، تايلند، سويس، ايستونيا، جورجيا (ګرجستان)، بلجيم، جرمنی، هالند، لاتويا، سعودی عربستان، ماليزيا، او اطريش.

نومورې درجې د تجارت د تنظيم په لس ګونو شاخصونو پورې اړه لری چې د هغې پر اساس هغه وخت او لګښتونه چې د تبشتاتو دفعاليت د پيل، د فعاليت د سرته رسونې، ماليې او د فعاليت د پای ته رسونې لپارﻩ د دولت د غوښتنو د پورﻩ کولو لپارﻩ ضروری دی، څرک يې پری معلومېږی. نومورې درجې دداسی ساحو انعکاس نه ورکوی لکه د لوی اقتصاد پاليسی، د بنسټيزو جوړښتونو کيفيت، د پيسو يې ثباتی، د پانګه اچوونکو آند، او يا د جرمونو کچه. له ۲۰۰۳ کال څخه راپديخوا، د تجارت کولو راپور په ټوله نړی کښې د ۱۱۳ ريفورمونو خبرتياوې يا زېرې ورکړې دي.

###

د تجارت کولو د راپور پروژﻩ په ټوله نړی کې د هغه تر ۵۰۰۰ څخه زيات سيمه ايېز کارپوهانو (يعنی سوداګريز مشاوران، حقوق پوهان، محاسبين، دولتی کارکوونکې او مهم اکادميک کسان) په هڅو سره ليکل کيږی چې په ميتوديکه توګه ددې راپور په ليکنه کې مرسته کوی او بيايې ګوری. ډاټا، ميتودلوژی او د ونډه اخستونکو نومونه په عامه توګه د لاندې انټرنټيي آدرس څخه لاس ته راتلای شی: www.doingbusiness.org

د ۲۰۰۸ کال د تجارت د کولو د راپور په هکله د زياتو معلوماتو لپارﻩ په لاندې توګه اړيکه ټينګه کړی:

کارينا ماناسيح0434 -458 (202)

موبايل: 422-5274 (202)

ايميل: kmanasseh@ifc.org

د ۲۰۰۸ کال د تجارت کولو راپور اړوند د سيمو د ځانګړيو پوښتنو لپارﻩ اړيکې:

سهيلی آسيا

ميناکشی سيت 11-4111-1058(91)

ايميل: mseth@ifc.org

جان ايريک نورا4735-458 (202)

ايميل: enora@worldbank.org